د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست
د تحريراتو آمريت
د متحدالمآلونو څانگه

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

د متحدالمآل گڼه: ۸
نېټه: ۱۴۴۳/۷/۳۰ هق

---

د افغانستان اسلامي امارت تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته!

السلام عليکم و رحمت الله و برکاته

وبعد: د محاکمو پر عريضو ، فيصلو او وثايقو د پيسو نه اخيستلو په هکله د اسلامي امارت مشرتابه محترم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله فرمان نمبر (۳۴۲ ج ۱) مورخ ۱۴۴۳/۷/۲۶ هق په لاندي ډول رارسيدلي:

((پخوا چي پر عرائضو، فيصلو او وثايقو کومي پيسي اخيستل کيدلي او په بانکونو کي جمعه کېدلې ، په آينده کي دي دغه پيسي نه اخيستل کيږي.))

د اسلامي امارت د مشرتابه مذکور فرمان مو د ستري محکمې محترم عالي مقام ته وړاندي کړ په اړه يي داسي هدايت صادر شو:

((د اسلامي امارت د مشرتابه محترم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله مذکور فرمان دي د افغانستان اسلامي امارت ټولو محکمو ته واستول شي او محکمي دي د هغه په استناد د عريضو، وثيقو او فيصلو د محصول اخيستلو څخه ډډه وکړي.))

بناءً د اسلامی امارت د مشرتابه مذکور فرمان د ستري محکمې د عالي مقام د هدايت په اساس د دې متحدالمآل سره يو ځای د افغانستان اسلامي امارت ټولو تميزونو ، ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغي په رڼا کي شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

په درنښت

۳۰/۷/۱۴۴۳ هق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"
د ستري محکمې
د دارالانشاء رئيس

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

---

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې خلور لاری، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
ټیلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
ويب سايت: ستره محکمه